**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ښاغلی تکیستی تیکیه، د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنی د سازمان مشر په افغانستان کی او داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د جون د میاشتی نهمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**يوناما:** آغلو او ښاغلو سهار مو نيکمرغه، زه نظيف الله سالارزی د يوناما د وياند له دفتر څخه يم. زموږ سره ميلمه دی ښاغلی تکيستی تيکيه د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنی د اداری مشر په افغانستان کی. هغوی به تاسو ته د افغانستان د کرنی په اړه معلومات درکړی، خو مخکی ترهغه يو څو لنډ رپوټونو تاسو ته وړاندی کووم او وروسته ترهغه به په خوښي سره ستاسو پوښتنو ته ځواب ووايو.

**د هلمند په ولايت کي يو ژوناليست و وژل شو**

موږ د ښاغلی عبد الصمد روحانی د مريني له کبله چي په هلمند ولايت کي يي د بی بی سی د خبريال په توګه دنده ترسره کوله خواشيني يو. افغان خبريالان د عادي خلکو د انديښنو او اړتياوو د څرګندولو پخاطر خپل ژوند په خطر کي اچوي، دا کار د بخښني وړ نه دی چي دا ډول بي دفاع کسان د بل هيڅ دليل لپاره نه بلکه د خپلي دندي د ترسره کولو لپاره تر هدف لاندي نيول کيږي. موږ د افغان چارواکو څخه غوښتنه کو چي د دې بي رحمانه وژني مسولين د قانون منګولو ته وسپاري.
موږ رښتيني خواخوږي او او ژور تسليت د ښاغلي روحاني کورني او د نوموړي د بی بی سی ټولو همکارانو ته وړاندي کوو.

**د افغانستان د ملاتړ لپاره نړيوال کنفرانس- د جون ۱۲، ۲۰۰۸ کال**

د افغانستان د ملاتړ په هکله به دا نړيوال کنفرانس د جون د مياشتي په ۱۲ ، پنجشنبه په پاريس کي داير شي. دا کنفرانس د افغانستان د حکومت او د فرانسي د حکومتونو او د ملګرو ملتونو په نوښت ترسره شي. په دې کنفرانس کي به عمومي منشي، ولسمشر کرزی او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی کای ايده ګډون ولري.
په دې کنفرانس کي به تر ۸۰ زيات هيوادونو او نړيوال سازمانونه ګډون وکړي او د هغه پرمختګ ارزونه به وکړي چي نږدې دوه کاله وړاندې د افغانستان د تړون په منلو سره د لندن په کنفرانس کي ترسره شوه، په دې کنفرانس کي به د هغو ستراتيژيکو ننګونو بيا ارزونه وشي چي لا اوس هم د هيواد اوږد مهاله بريااليتوب ته ګواښ بلل کيږي. په دې کنفرانس کي به د افغانستان د حکومت د ستراتيژيک پلان يعنی د افغانستان د ملی پراختيايي ستراتيژی پلان پيل کړي.
موږ به ددې کنفرانس اعلاميه تاسو ته په دې راتلونکي پنجشنبه وړاندې کړو.

**نړيوال خوراکي پروګرام په ښاري سيمو کی د ۱,۱ ميليونو کسانو سره مرسته کوي**

د خواړو د بيو د راټيټولو د پروګرام د يوې برخي په توګه د ملګرو ملتونو نړيوال خوراکي پروګرام د کابل، ننګرهار، مزارشريف، کندهار او لشکرګاه په ښاري سيمو کي ۱,۱ ميليونو وګړو ته خوراکي توکي وويشل.
د خواړو د نړيوال پروګرام د کار په بدل کي د خواړو پروګرام ۵۰۰،۰۰۰ وګړي په نږدې افغاني ولايتونو کي په دې کار کي بوخت کړي دي.
په تيرو اوو ورځو کي، نړيوال خوراکي پروګرام د جګړې له امله ۲۰۰ بيځآيه شويو وګړو ته په لشکرګاه، هلمند ولايتونو کي ۲۵ ټنه خوراکي توکي برابر کړي دي. د هغي کره کولو د سروې د لارې چي د بيړنيو حالاتو د ولايتی کميټي له خوا ترسره شوه نږدې ۱۳۰۰ بيځايه شوي کورنی به چي د ګرمسير په ولسوالی کي د امنيتی انديښنو په نتيجه کي بيځايه شوې دي، خوراکی توکی د هغوی لپاره لشکرګاه ته رسيدلي دی او په راتلونکی دوه ورځو کی به ۱۴۲ ټونه مواد په هغوی وويشل شی.
نړيوال خوراکي پروګرام ۱۳۰۰ سيلاب ځپلو کورنيو ته په بلخ او سمنګان ولايتونو کي د يوناما، د ډبليو ايف پي او حکومت د ارزونو سره سم بيړني خوراکي مرستي رسولي دي.
تيره اونی نړيوال خوراکي پروګرام ۲۰۰ ټنه خواړه ۶۰۰۰ زيان منونکو بيرته راستانه شويو وګړو ته چي د پاکستان څخه ننګرهار ته را ستانه شوي دي، ورسول. په دې برخه کي نوري ارزوني به د زيان منونکو بيرته راستنيدونکو کورنيو په اړه چي په ختيځو سيمو کي د خوراکي توکو مرستي ته اړتيا لري، ترسره شي.
نړيوال خوراکي پروګرام په پلان کي لري چي اضافي ۸۹۰۰۰ زره ټنه خوراکي توکي چي زياتره يي غنم او اوړه دي ټولټال ۲,۵ ميليونو افغانانو ته چي د جولای په نيمايي کي د زياتو سيلابونو له امله زيانمن شوي دي، وويشي. د دې سربيره نړيوال خوراکي پروګرام په پلان کي لري چي نور ۱۷۹۰۰۰ ټنه خوراکي توکي ۳،۴ ميليونو زيان منونکو افغانانو ته په ټول هيواد کي د ۲۰۰۸ کال تر پای پوري ورسوي.

**د افغانستان د نوی پيل په پروګرام (ANBP) باندې بريد**

د ۲۰۰۸ کال د جون په ۳ نېټه د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام او د افغانستان د نوی پیل پروګرام د سفر د ماموریت په موده کې د دغه پروګرام ۴ تنه ملکي کارکوونکي چې ورسره د افغاني پولیسو بدرګه وه د غزني او کابل په لاره کې د کمین د لاندې راغلل.

دغه پیښه د میدان وردګو د ولایت د درانی په ساحه کې چې کابل ته نږدې پرته ده ترسره شوه کله چې د پولیسو ترانسپورتی وسیله د مخالف لوري را روانه وه او د واټن څخه د اداري کیدونکي تعبیه شوي چاودیدونکي وسیلې د برید د لاندې راغله چې ورسره دوه پولیس افسران ټپیان شول. د چاودني وروسته حکومتي ضد عناصرو په ډزو پیل وکړ.
د پولیسو د ګزمې له خوا د دې باور ورکړ ی شو چې د افغانستان د نوي پیل د پروګرام کسانو او ترانسپورتی وسیلی ته تاوان نه دی اوښتی.
ملګری ملتونه د پولیسو د ساتونکي ټیم د دغه زړه ور اقدام، مسلکي توب او خپلې دندې ته د ژمنتیا په داسې حال کې ډیره ستاینه کوي چې د هغوي خپل ژوند هم تر خطر لاندې و.

**د خوراک او کرنې د موسسې د خبرو ټکې- جون ۹، ۲۰۰۸**

د خوړو نادادمنتوب او د خوراکي توکو پرسیدونکي بیې هغه ستونزې دي، چې یوازې افغانستان نه بلکې ټوله نړی یې اغیزمنه کړې ده، چې ۹۰۰ میلیونه خلک خوړو ته پوره لاس رسی نه لري. لکه چې تاسې به په رسنیو کې لیدلي وي، دا د خوړو د هغه لوړ کچ نړیوالې سر مشریزې موضوع ده چې تیره اوونۍ د ایتالیا په روم کې جوړه شوې وه.

لکه چې تاسې ټول پوهیږئ، افغانستان یو کرنیز هیواد دی، خو په اوس وخت کې پوره اندازه خواړه نه شي تولیدولای چې خپل خلک پرې ماړه کړي او هغوي د وارد شویو خوړو له لوړو بیو څخه ځوریږي. د انسان په لاس جوړ شوو ناورینونو څخه سربیره، په افغانستان کې د خوړو دادمنتوب په دوديز ډول د طبیعی پیښو او ناورینونو له ننګونو سره مخامخ دی. د وچکالی، سیلابونو، یخنی، حشراتو او ناروغیو په ګډون.

له دغو سختو ننګونو سره په معامله کې پرمختګ شوی دی، خو دولت او نړیواله ټولنه باید خامخا په ګډه کار وکړي ترڅو چې په راتلونکو میاشتو کې ددغو موضوع ګانو سره په معامله کولو کې بهتر تدبیرونه ونیسي.

دولت او مرستندویان دې ته اړ دي، چې د کرنې سکتور ته ډیره پاملرنه او پانګونه په کې وکړي ځکه دا سکتور به د دې اوونۍ په پای کې د افغانستان په باب د پاریس د کنفرانس یو لومړیتوب وي. په کرنه کې پانګونه به دکار چانسونه زیات کړي، ضروري خواړه به تولید او آن د افغانستان لپاره به د دې امکان برابر کړي، چې نورو هیوادونو ته خواړه صادر کړي.

د هیواد په شمال، شمال ختیځ او لویدیځ کې د باران د ټیټې کچې اوریښت له کبله به په ۲۰۰۸ کال کې په افغانستان کې په تیره بیا په للمي کر سیمو کې کرنیز تولیدات د تیر کال په پرتله تر ډیرې اندازې لږ وي. په ویالو او کاریزونو کې د اوریښت د ټیټي سطحې له کبله به د اوبه خور له سیمو څخه هم حاصلات لږ وي.

د خوړو د نه دادمنتوب په وړاندې غبرګون کې لنډ مهاله بیړنی او اوږد مهاله پراختیایي ګامونه اخیستل شامل دي. تر اوسه پورې افغان دولت او نړیوالې ټولنې د بیړنیو حالاتو په وړاندې ښه غبرګون ښودلی دی. د افغانستان دولت همدارنګه په نړی کې لومړنی دولت و، چې د خوړو د اوسنی ستونزې بالقوه اغیز یې تشخیص کړ. خو د اوږد مهاله ګامونو او تدبیرونو په اړوند موږ ټول باید ډیر کار وکړو.

د خوړو او کرنې موسسه چې د کرنې، اوبه لګونې او مالدارۍ له وزارت سره کار کوي، د افغانستان لپاره یې یو د کرنې رغندوي پلان رامنځ ته کړی دی چې په هغه کې لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله تدبیرونه شامل دي چې د افغانستان تر مشرتابه لاندې به تطبیق شي. دغه پلان مرستندویانو ته وړاندې شوي دی او په پاریس کې به په افغانستان کې د کرنې د اهمیت په نورو بحثونو کې ور څخه کار واخیستل شي.

کوم لنډ مهاله تدبیرونه چې په راتلونکو میاشتو کې په نوموړی پلان یې وړاندیز شوی دی، دا لاندې کارونه په کې شامل دي:

- د غنمو د تخم او کیمیاوي سرې ویشل، چې ۳,۴ میلیونه خلک ور څخه ګټه واخلي.
- د څاروېو د تېنګو (غلیزو) خوړو ویشل چې له ۵۶۰،۰۰۰ خلکو سره مرسته وشي.
- د نږدې ۴۵۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې چې د ۴۵۰،۰۰۰ فوتبال میدانونو سره مقایسه کېدای شي، د حشراتو او ناروغیو بیرنی کنترول.
- د هیواد په کچه د تخمونو د ودې د تصدیو او کوپراتیفونو ملاتړ، دا به د افغانستان د اقتصاد د پیاوړتیا سره مرسته وکړي.

د دوو راتلونکو کلونو لپاره د منځ مهاله مودې تدبیرونه په لاندې ډول دي:

- د نږدې ۱,۷ میلیونو افغانانو لپاره د تخمونو او کیمیاوي سرې ویشل.
- د هیواد په کچه امکانات برابروي چې د هیواد په دننه کې حیواناتو لپاره خوراکي توکي برابر کړي او د هیواد د واردولو کچه را ټیټه کړي.

د راتلونکو ۵ کلونو د اوږد مهاله دورې لپاره تدبیرونه په لاندې ډول دي:

- د ښه حاصل لرونکو تخمونو د تولید ښه کېدل، دا د عادي تخمونو په پرتله څلور ځلې زیاته حاصلات ورکوي. د بېلګې په توګه په دې برخه کې د ۶۵ میلیونو امریکایي ډالرو پانګونه به نږدې ۲۵۶ میلیونه خالص عایدات را منځ ته کړي. دا د پانګوونې په هکله تر ۴۰۰ ٪ زیات عایدات دي، او د نږدې ۱,۸ میلیونو خلکو سره مرسته کوي.
- د بیړنی غبرګون د یوه میکانیزم په حیث د افغان حکومت لخوا د ستراتیژیکو غلو دانو د زیرمي تدارک. د دې لارې ممکن د نږدې ۲۱۵ میلیونو زیاتو زیانمنونکو افغانانو سره د دریو میاشتو لپاره مرسته وشي.
- د کاریزونو د بیا رغونې او د اوبو د تقسیم د مدیریت او کانالونو له لارې په ټول هیواد کې اوبو ته زیات لاس رسي.
- د هیواد په کچه د ناروغیو د کنترول د یوه جامع سیستم جوړول، په دې کې د کیمیاوي توکو د کنترول نوی قانون هم شامل دی.

د دې لپاره چې زه خپل اظهارات راغونډ کړم، په هیواد کې د FAO د اداري پیغام تمول کوونکو هیوادونو او د افغانستان حکومت ته دا دی چې د اوبو لګولو او د ښه حاصلاتو په برخه کې پانګه لګونه د افغانستان لپاره کلیدي نقش لري چې وکولای شي د خپلو راتلونکو اړتیاوو د تولید لپاره کار وکړي.

د دې کار د ترسره کولو لپاره وخت او پیسو ته اړتیا ده، خو د یو ځای کار کولو له لارې کېدای شي دا کار تر لاسه شي. دا پانګونه به ټولو افغانانو ته ګټه ورسوي، دا به نه یوازې د خوراکي توکو د خوندیتوب په برخه کې بلکه دا به د هیواد د ټول اقتصاد لپاره ګټور ثابت شي.

## د پوښتنو او ځوابونو برخه:

**طلوع تلویزیون:** تاسو د هیواد کرنیز سکتور او هغه سیمي چې د کم اورښت له امله زیانمني شوي څنګه ارزوئ؟ تاسو وویل چې د خوراکي توکو د نا خوندیتوب له امله نږدې ۲,۵ میلیونه افغانان متاثره شوي دي. تاسو څنګه دا ارقام تر لاسه کړي او دا وضعیت څومره جدی ښکاري؟

**د خوراک اوکرهنی اداره:** سږ کال په ټولیز ډول للمي کر سیمي متاثره شوي دي. سږ کال کافي اورښت نه دی شوی چې د للمی کر ځمکو سره مرسته وکړي. زیاترو ځمکو حاصلات و نه کړل او په نتیجه کې به د حاصلاتو کچه را ټیټه شي او کیدای شي خوراکي کموالی هم رامنځ ته شي. د واورې د کم اورښت له امله واورې نه دي ویلې شوي او په نتیجه کې په سیندونو کې هم کافی اوبه نشته او له دې اړخه یادې شوې سیمي د اوبو لګونې د چارو څخه متاثره شوي دي. دا سیمي د للمي کر د سیمو په شان د بد وضعیت سره نه دي مخامخ خو په نتیجه کې به یې د حاصلاتو کچه راټیټه شي. اټکل کیږي چې د حاصلاتو کچه به د تیر کال په پرتله ټیټه وي. ستاسو د دومي پوښتنې په اړه باید و وایم، د ۲,۵ میلیونو خلکو شمیر یخوا د ملګرو ملتونو د نړیوال

خوراکي پروګرام له خوا څخه خپور شوي وه. دا خلک د خوراکي توکو د لوړو نرخونو له وجې نه شواي کولای د ځان لپاره خوراکي توکي را ونيسي.

**هشت صبح:** لکه څنګه چې تاسو په خپله مطبوعاتي پاڼه کې د پاريس د کنفرانس په هکله د ځينو چيلنجونو د موجوديت يادونه وکړه، دغو چيلنجونو په اوږد مهاله دوره کې د لاس ته راوړنو تر منځ يو واټن رامنځ ته کړ، تاسو څه فکر کوئ چې نړيواله ټولنه به يو ځل بيا د افغانستان سره ژمني ترسره کړي؟

**يوناما:** هغه ژمنې چې نړيوالې ټولنې په افغانستان کې ترسره کړي زموږ د لاس ته راوړنو لپاره اساس جوړوي، موږ پرمختګ کړی او هيڅوک نه شي کولای له دې څخه انکار وکړي خو په عين حال کې هيڅوک هم نه شي کولای د چيلنجونو په موجوديت سترګې پټې کړي. خو د چيلنجونو موجوديت هم په دې مانا نه دي چې موږ لاس تر زنې کښينو. د پاريس کنفرانس د افغانستان د حکومت او نړيوالې ټولنې ترمنځ يوه نوي تړاو دی، موږ تمه لرو چې د نړيوالې ټولنې له اړخه به نوی ژمنې تر لاسه کړو. همدارنګه به د افغانستان د حکومت له اړخه د حساب ورکونې او د اداري فساد په اړه لا ټينګه مبارزه وشي چې د افغانستان په اړه مرستې په موثره توګه ولګول شي.

**رويټرز:** د ترياکو د حاصلاتو څخه د غنمو د حاصلاتو طرف ته د بزګرانو د تللو په هکله بيلا بيل نظرونه موجود دي، تاسو په دې نږدو کې په ګارډين ورځپاڼه کې ويلي وه چې د ترياکو د حاصلاتو څخه د غنمو د حاصلاتو اړخ ته د خلکو د اوښتلو په هکله شواهد تر لاسه شوي، خو تر اوسه هم په خاص ډول د ملګرو ملتونو په دننه کې بيلا بيل نظرونه موجود دي، ما د دغه پوښتني په اړه د نورو نمايندګيو څخه هم نظر غوښتي. آيا دا يوازې د ګټې موضوع ده؟ آيا تاسو کولای شي په دې هکله معلومات وړاندې کړئ؟

**د خوراک اوکرهنی اداره:** زه خوښ يم چې تاسو د دې موضوع يادونه وکړه ځکه چې دا ناسم نقل قول دی. ما هيڅکله هم دا خبرې نه دي کړې، ما په دې اړه ګارډين ته ليکلي چې دا شميرې سمې کړي. هغه څه چې ما په خپلو مرکو کې په موافقه توګه ويلي دا دی چې تير کال د کرنې د فصل پر مهال ترياک او غنم دواړه په يوه وخت کرل شوي و. خو د نرخونو لوړوالی د جنورۍ د مياشتې څخه وروسته راغي او بيا د هغه راهيسې نرخونه په لوړيدو دي. په هغه وخت کې د نرخونو د لوړوالی لپاره کومه انګيزه موجوده نه وه. له دې څخه پرته چې د غنمو نرخونه په کافي اندازه لوړ وه او که نه، فصل لا د مخه کرل شوي وه. خو زه په دې هم باوري يم چې په راتلونکی کې به د خوراکي توکو د نرخونو په برخه کې د پام وړ کموالی را نشي، ممکن دا به بزګرانو ته دا انګيزه ورکړي چې په راتلونکی وخت کې غنم وکري. په رښتيا سره ما د ګارډين سره په مرکه کې ويلي وه چې ما په باميانو کې داسې نښې ليدلي چې بزګرانو د پټاتو د کښت څخه د غنمو کښت ته رجوع کړی، د ترياکو په هکله ما څه نه دي ويلي ځکه چې په باميانو کې هيڅ ترياک نه کرل کيږي. ما د باميانو څخه د خپلې تيرې مياشتې د ليدنې پر مهال شواهد تر لاسه کړي او بزګرانو ته دا جوته شوې چې د پټاتو پر ځای د غنمو کرل د هغوي لپاره ډير ګټور دي نو له دې امله يې د غنمو کښت ته مخه کړې.

**افغانستان ټايمز:** په تيرو د پنځو څخه تر شپږو کلونو کې د کرنې د سکټور په پرتله د ساختمان او ودانيو په سکټور کې زياته پانګوونه شوې ده. د کرنې په سکتور کې پوره پانګوونه نه وه او همدا وجه ده چې دلته د خوراکي توکو بحران دی. ستاسې له نظره د دې لاملونه کوم دي؟

**د خوراک اوکرهنی اداره:** دا ډيره مشکله پوښتنه ده. د هيواد اړتياوې ډيرې زياتې دي: د روغتونونو بريښنا، سړکونو، ښوونځيو او نورو زياتو شيانو ته اړتيا ده. همدارنګه کرنې ته اړتيا ده. خو د بده مرغه تر اوسه پورې کرنې ته خورا زياته اړتيا ده. خو اوس مهال ښه خبر دا دی چې د خوراکي تو کو او وچکالی د بحران له امله چې په اړه يې ډير وګړي غبريږي خلک کرنې ته زيات لومړيتوب ور کوي او د کرنې په ډګر کې پانګوونه کوي. په رښتيا سره زه خوښ يم وو ايم چې د پاريس په راتلونکي کنفرانس کې کرنه به د اجنډا په سر کې وي.

**د امريکا غږ:** تاسو په تفصيل سره د خوراکي مرستو په اړه وغږيدلئ، خو د شمالي ولايتونو پنځو واليانو وويل چې د هغوي لپاره مرستې په شمال کې نه وي، ستاسې غبرګون په دې اړه څه دی؟

**یوناما**: موږ په شمال کې د دوو ولایتونو په اړه وغږیدلو چې هغه د بلخ او سمنګان ولایتونه دي چې هلته ۱۳۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو سره مرستې شوې دي. د کار د طرزالعملونو له مخې لومړی هلته حکومت د ملګرو ملتونو او نورو بشر دوستانه موسسو په همکارۍ یوه ګډه ارزونه ترسره کړله چې مرسته اخیستونکي وپیژندل شي او بیا د حکومت د وړاندیزونو سره سم موږ اړو خلکو ته د خوراکي مرستې توکي ځانګړې کړل چې په شمال کې هغوي ته ورسیږي، زه کولای شم چې تاسو ته ایف ای او هغو همکارانو پته درکړم چې کولای شي په دې اړوند ډیر معلومات در کړي.

**آریانا تلویزیون:** تاسو وویل چې د باران د کم اوربښت له کبله به د غلو دانو په حاصلاتو کې کمښت رامنځ ته شي، آیا کولای شئ د دغه کمښت د اندازې شمیرې راکړئ؟

**د خوراک اوکرهنی اداره:** یوه ارزونه د کرنې وزارت له خوا د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې موسسې په مرسته سرته رسیدلې ده. دغه رپوټ به ډیر ژر د حکومت له خوا خپور شي، خو زه تاسو ته ویلای شم چې په للمي سیمو کې به په خاصه توګه ډیره اندازه کمښت وي او تر یوې اندازې د اوبه خور په سیمه کې هم. نو په عمومي توګه د تیر کال په پرتله به یو ستر کمښت په حاصلاتو کې وي. سلنې او شمیرې ډیر ژر د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت له خوا خپاره شي.

**ایرین:** آیا تاسو ویلای شئ کله چې تیر کال افغانستان ۵ میلیونه ټنه حاصلات تولید کړل څومره اندازه یې للمی کر سیمو څخه وه او د دغه کار په ناکامۍ سره به سمدستې بشري عواقب څه وي؟

**د خوراک اوکرهنی اداره:** زه دقیقې شمیرې نه شم ویلای خو په افغانستان کې ۱,۵ میلیونه هکتاره ځمکه تر اوبه خور لاندې ده او عینې اندازه تر للمی کر لاندې یعنی یو نیم یو نیم میلیون هکتاره. د للمی کر ځمکې حاصل ۱,۱ ټنه په هر هکتار کې ده، په داسې حال کې چې د اوبه خور ځمکې څخه تر دوه برابره زیاته ده یعنې ۲,۶ متریک ټنه په هر هکتار کې. نو تیر کال حاصلات کابو ۴,۶ میلیونه ټنه غنم و او د دغه ۶۰- ۶۵ سلنه پورې له اوبه خور د ځمکې څخه وو په داسې حال کې چې ۳۰- ۳۵ په سلو کې د للمی کر له ځمکو څخه. د خوړو د مرستې لپاره به یوه غوښتنه وشي او همدارنګه د پانګوونو لپاره هم، د دې لپاره چې په اوږده موده کې بشري پایلې حل شي. په دا راتلونکو ورځو کې به د ملګرو ملتونو نمایندګۍ یوه غوښتنه پیل کړي چې له هغو خلکو سره مرسته وشي چې د خوندیتوب تر کرښې لاندې راځي. نو ډبلیو ایف پي، ایف ای او او د ملګرو ملتونو نورې نمایندګۍ د یوې غوښتنې د پیل کولو لپاره تیاری نیسي چې د دغې موضوع چاره وکړي او زه همدارنګه پوهیږم چې دولت کوشش کوي چې د هیواد څخه بهر خواړه واخلي او هیواد ته یې وارد کړي. سږ کال د خوړو د بیو پړسیدنه او لوږوالی یوه نړیواله ستونزه ده. ډیر هیوادونه خواړه نه پلوري دا یو ډیر ستونزمن کار دی چې خواړه وارد شي. نو له دې کبله دغه حل یې هم مشکل دی او له همدې امله زه د خپلو خبرو پای ته په رسیدو ټینګار کوم چې حل یې دا ده چې خواړه دلته په افغانستان کې تولید شي. موږ نه شو کولای هر کال د خواړو په واریداتو باندې تکیه وکړو حتی که موږ وغواړو چې د زیانمنیدونکو وګړو سره مرسته وکړو موږ کولای شو خواړه دلته واخلو.

**نور تلویزیون:** که موږ په افغانستان کې د بشري حقونو حالت ته وګورو، نو وینو چې دغه حقونه په دې هیواد کې تر پښو لاندې کیږي. د ساری په توګه د ماشومانو جنسي ناوړه استعمال، د بشري حقونو د ټولنو یو شمیر رپوټونه شته چې وایي د بشري حقونو او د مدني ټولنې واقعي استازي دلته نشته. نو آیا د یوناما موقف په دې باب څه دی؟

**یوناما:** تیره اونۍ موږ د مدني ټولنو د استازیو یوه مقدماتي غونډه په پاریس کې درلوده، لکه چې ما د مخه وویل د دغه کنفرانس کوربه توب به د افغانستان حکومت، فرانسه او ملګري ملتونه کوی. په دغه کنفرانس کې به تر ۸۰ زیات هیوادونه او نړیوالې موسسې برخه واخلي. موږ باور لرو هغه څوک چې اړتیا لري د دغه کنفرانس یوه برخه و اوسي هغوي به پاریس کې وي.

**ویاند:** تاسو ټولو څخه ډیره مننه.

---